Vatandar وطندار
سیاسی فرهنگی ادبی فلسفی

# زما او اغلې نسيمې ابراهيمي خور ترمينځ په مونشن ښار کې دايران لوی کونسل ښاغلی بازرګاني وينځ

په جرمني کې دبايرن مېشتو افغانانو دکولتوري ټولنې له هڅواولاس ته راوړنو څخه

عزتمنو لوستونکو!

تاسوهم خبرياست چې په ټوله نړی کې تر بل هرچا لمړی دجرمني په بايرن آيالت کې زموږ دکولتوري ټولنې غړو د روان زېږديزکال اپريل په ۱۶ نېټه په ايران کې زموږ دافغانانو اعدامونه د هغه لاريون په ترځ کې وغندل کوم چې له (Arabellapark) څخه تر Mauerkircherstraße پورې صورت مونډلی و، موږ دالمان پلازمېنې برلين ښار کې ايراني او افغان سفارتونوته هم خبر ورکړی و همداراز مو په مونشن ښار کې د ايران لوی کونسل ته مخکې له دې چې کونسولګري ته ورنږدې شو تيليفوني خبر ورکړ ښاغلی بازرګاني چې دايران لوی کونسل دی په تيليفون کې موږ ته وعده راکړه چې ستاسو غوښتنې به هرو مرو موږ دبهرنيو چارو وزارت له لارې خپل ولسمشر ته ورسوو خوزموږ هم دايوه هيله ومنځ چې دکونسولګري په ساحه کې نارارامې خپره نه کړی . موږ هم دهغه په جدي وعده باور وکړ نو مو خپلې پنځه غوښتنې دتيليفون په ذريعه ورته ووېلې او په



خوشبېو کې دمونشن ښارمينځ ته راستانه شووپه سباموخپلې غوښتنې په رسمي ډول زموږ دکولتوري ټولنې لخوا ور ولېږلې ښاغلي کونسل داپريل په ۱۹مه نېټه دبهرنيوچاروزارت له لارې ولسمشر احمدنژاد ته زموږ غوښتنې په رسمي توګه ورولېږلې چې بيايې موږ ته تيليفوني ډاډهم راکړ دادی نږدې يوه نيمه مياشت انتظار موويېست هغه و چې دمی په ۲۵ تمه نېټه ښاغلي بازرګاني موږته ډاډاو بلنه راکړه چې ستاسودغوښتنو په اړوند رسمي ځواب رارسېدلی دی مهرباني وکړئ دمی مياشتې په ۲۷ تمه نېټه د برېځر په لسو بجو تشريف راوړئ څو په دې اړوند خبرې وکړو .

زموږ دکولتوري ټولنې ملګرو د خپل استازي په توګه ما محمدامين بسمل ته سلا راکړه چې ورشم همدا راز په مونشن ښارکې دافغان مېرمنو په استازيتوب زموږ پياوړې خوراغلې نيسمه ابراهيمي راسره مله او دايران لويې کونسلګري ته ورغلوښاغلي کونسل موږ ته ځانګړی مېلمه پال موظف کړی وچې زموږ يې دېر زيات درناوی وکړ بيادايران له لوی کونسل ښاغلي بازرګاني سره زموږ مجلس ۷۰ اويا ميلټه وخت ونيو زموږ خبرو سياسي ، ټولنيزې ، اقتصـادي، عمومي او خصوصي جنبې له ځان سره



لرلي زموږ نظريات  په ډېرو موارډو کې يو  ډول  وو ښاغلی بازرګاني  دېو لوی ايراني سياستوال زوی اوپخپله هم يو ربښتينی، با فرهنګه ديپلومات او ښه ځيرک انسان دی ځکه خو يې زموږ افغانانو په اړوند  هر  اړخيزه خواوږي وښوده، دګران افغانستان او افغانانو له تاريخ ښه خبر  و  آن چي زموږ افغانانوتاريخ يي دخورا وياړ وړ وباله په  دې اړوند يي دالمان  د پخواني صدراعظم ښاغلي  Helmut Schmidt  دخولې خبرې يومثال راوړ چې هغه لويديځوالو (امريکايانو) ته وېلې وچې په افغانستان  تيری کول ځانوژنه  ده افغانان هيڅکله  هم چا ته  نه  تسليمېږي آن که  لا يو تن  افغان هم پاته وي  .

د دې خبرو  په  پای کې يې دايران مشرتابه لخواهغه ليک چې دکاغذپه درېومخونوکي خوندي او تاسو يې پاس  په  لمړي تصوير کې  د ښاغلی بازرګاني  په  کين لاس کې  وينئ موږ ته  ولوست  هلته  د۲۰۰۱ زېږديزکال   له ۱۱ يولسم دسپتمبر ځخه مخکې او وروسته دافغان محاجرينو په اړونددايران  دمرستو، امکاناتو، د ټيټو او لوړو زده کړو په اړوند دافغانانو د ورځنيو کړو وړو په اړوند  خورامهمومالوماتو وجود درلود داسې ځه  هم  پکې وو

چې ردېدل يي  څه ساده کار نه  و  خو بيا هم موږ خپل منطق  ورسره ځغلاوه  دياد شوي  مکتوب  په  متن کې موږ  مانا دبايرن ميشتو افغانانو کولتوري ټولنې ته داډ راکړ شوی و چې که زموږ خپل  ايرانی او يو افغان  محاجر په  يو  ډول جرم مرتکب  شي موږ  به افغان محاجر  مجرم  ته  دومره سزأ ور نه کړو لکه هغه خپل ايراني مجرم  ته .

خوموږ  د مننې  په  ترڅ کې بيا هم زموږ دکولتوري ټولنې په  دې لاندينيو پخوانيو پنځوغوښتنو ټينګارکاوه :

۱ ـ له  هرڅه  مخکې  دافغان زندانيانو داعدام  د لرې درول .

۲ ـ له سره  دافغان زندانيانو د تحقيقي دوسيو ځيړنه .

۳ ـ  موږ  د ربښتيني تحقيق غوښتونکي  يو، دجرم  داثبات په  صورت کې مجرمينوته دمناسبې سزأ پلويان يوخو په هيڅ حال له هغوی  ځخه  د ژوند اخيستل نه شو منلای .

۴ ـ موږ دخپلوافغان  زندانيانو د تحقيق په پروسه کې  دبې پرې نړيوالو بشري حقونو دلو، اسلامي هيوادونو دکنفرانس غړو او يو ربښتيني افغان کميسيون ګډون غواړو .

۵ ـ  موږ  د افغان  زندانيانو لېږدول  خپل هيواد ته  غواړو .

ښاغلي بازرګاني  زموږ  غوښتنې په منطق  ولاړې  بللې  اوهيڅ   د رد دليل يې نه  درلود ځکه  خوزما  ټينګار  په ځانګړي ډول زموږ دغوښتنوپه عملي کېدو  و  اغلي ابراهيمي خورزموږ دنظرياتودتائيدترځنګ دبايرن ميشتو  افغان مېرمنو په استازيتوب دايران  په دولت کلکي نيوکي وکړې چي زموږ په خاوره کې ډېرې لاسوهنې کوي،

موږ ترخپل کولتوري يرغل لاندې نيسي اود افغانانوپه مينځ کې بېلتون  راولي   دلاسووهنواو بيلتون  په اړوند ښاغلي بازرګاني ماته مخ  راواړاو چي  داغلي ابراهيمي  منظور څه دی؟

ما هم ورته  ځوعيني نمونې يادې کړې لکه  د سلما د بند جريان،  په افغان  رسينيوکنترول، همدا راز  له  يوشمېر  هېواد دښمنواو تش په  نامه  سياسي  ځېرو  ځخه  پټ  او ښکاره  ملاتړ لکه  له  دايو شمېر جنګي  جنايتکارانو ، کريم خليلي، محقق ،غېرګ عبدالله  اودشمالي ټلوالي  له ځينو نورو جنګي جنايتکارانو ځخه  .

ښاغلي بازرګاني له ما ځخه ژوندی او دا دلنډو ورځوشپو مثال وغوښت  ماورته له  واره  د کريم خليلي او محقق  پاروني وښودې چي غواړي  هزاره  ورونه  زموږ  دکوچيانو ورونو په  وړاندې  تحريک کړي  ترڅو په  دې وسيله  خپل جنايتونه پټ وساتي، قومي شخړې  راپورته کړي افغان ولس ناارام  او دافغانستان  تجزيه پلي کړي .

ښاغلي کونسل له موږ سره همغږی شوبيا مو په سيميزو مسئلواوستونځونظرونه  شريک کړل مجلس مودومره جالب  شو چې له ټاکلي  وخت  ځخه  هم لس ميلټه  وراوښت  په  دې  وخت کې د ښاغلي  بازرګاني سکرتر  راغی او ورته ويې وېل چې لس ميلټه کېږي هغه پلانی تاسو ته انتظار باسي  سکرتر ووت خو ښاغلي بازرګاني  زموږ د درناوي  په  خاطر لږ نورهم راسره پاته شوپه دې وخت کې ما ورځخه وپوښتل چې که  خوښه مو وي  دمجلس  دا وروستی برخه به  په  فلم کې ونيسو وېل  په  دواړو سترګو .

بیا مو د مجلس وروستی برخه فلم کره په اخیر کي مو په ګډه الله پاک ته لاسونه لپه کړل چي زموږ د سیمي اوسېدونکو ته د دي وس راکړي څو پخپلوکي یوموټی شو، وروري وکړو، علمي کچه لوړه بوزو، له دا خپلو زېرمو او شتمنیو ښخه پخپله ګټه پورته او دا راغلي نابللي ژر ترژره رخصت کړو.

ښاغلي بازرګاني د خدای په اماني په وخت کي بیا هم په خپله وعده ټینګار وکړ چي دایران له مشرتابه ښخه به بیا هم په رسمي ډول هیله وکړي چي زموږ غوښتني عملي او دافغان زندانیانوپه حق کي ظلم ونه کړي .

دیادولو وړده چي دا برخه هم په فلم کي راغلي ده خو د فلم وزن زیات دی موږ نه شو کولای چي خپلو ګرانو افغان ویبپاڼو او ویبلاګ چلوونکو ته یې د ایمیل له لارې ورولېږو څو تاسو قدرمن لوستونکي یې هم ووینئ خو دومره کولای شو چي صرف په غریز ډول یې ورولېږو څو تاسو یې واورئ .

دافغان په ننګ مي وتړله توره ×××ننګیالی دزماني خوشال ختک یم

عزیزانو!

موږ ترخپله وسه هڅه کړې څو له ګران هېواد افغانستان او خپلو مظلومو هېوادوالو ښخه ملاتړ وکړو موږ په هیڅ سیاسي جریان پورې نه تنها تړاو نه لرو بلکي دا نننی سیاسي ګوندونه هېواداو خپل ولس ته محکوم ګڼو

موږ د خپلوسرونو په بیه څوځلي داسي لاریونونه کړي چي ترڅنګ مو د نسیمي ابراهیمي خور په شان نورې خویندې هم ولاړې وي دخپلواکۍ په ۸۹ یمه کلیزه کي خوزموږ یودوه خویندي آن له فرانکفورت ښخه راغلي وې مانا موږ هروخت د بې عدالتیو په وړاندي خپل غږ پورته کړی او ګرانو افغانو خویندواو ورونو موکلک ملاتړ کړی دی د ۲۰۰۲ دوهم زیږدیز کال په اوړي کي مو په Marienplatz کي د مونشن ښار لسګونو زرو ښاریانو ته په ډاګه ووېلي چي افغانستان یواشغال شوی هېواد دی البته موږ له طالبانوسره کومه خواخوږي نه لرله خو موږ دااحساس کاوه چي د دیموکراسي په پلمه به داسي توري شپې زموږ په ولس راولي لکه دا اوس یې چي تاسي هم په خپلو سترګو وینئ زموږ له تولني ښخه یو افغان چي نوم یې نه اخلم ځکه اوس دکابل په اداره کي کار کوي خدای مه کړه څوک زیان ور ونه رسوي داسي ووېل :

دا ۱۱ لسم سپتمبرله پېښي ښخه لا پنځه میاشتي دمخه امریکا له پاکستان او ځینونورو اروپايي هېوادونو سره دطالبانو د راپرزولو پلانونه شریکول .

زموږ غښتلي او مېړنی خور نسیمي ابراهیمي هم په خپل وار سره په افغانستان ظالمانه بمباری وغندلې ، ما هم دطالبانو راپرزول د بریداس او یونوکال دتیلو کمپنیو د لانجو پایله وبلله او د نوي استعمار خبرداری مي ورکړ .

دا چي په هغه وخت کي له یوې خوا پېنتو ویبپاڼي دومره نه وې فعالی له بلې خوا د پښتو دلیکني پروګرامونه کم وو نو ځکه زموږ ډېر فعالیتونه صرف هغو ته ښکاره وو چا چي له موږ سره په مخامخ ډول وندہ لرله له نېکه مرغه نن ورځ هر ډول اسانتیاوې شته موږ به هڅه وکړو څو خپل ګران هېواد وال تل په جریاناتوخبر او تر خپله وسه یې ملاتړ وکړو همداسي ستاسو عزیزانو ملاتړ ته هم اړ یو مانا که یو نه شو ورکېږو .

یادونـــــــــــــــــه :

زموږ دکولتوري ټولني ټاس ته راورنی خورا ډېری دي په راتلونکي کي به یې تاسو ته په تفصیل سره وړاندي کړو خویوه نوې او ډېره مهمه لاس ته راوړنه مو دا ده چي زموږ وروستی اعلامیه دملګرو ملتونو سازمان ته هم ورسېدلې او دا دی پرون د ملګرو ملتونو د بشرحقونو یو کارپوه ثبت کړی څو امریکا دی ته وهڅوي چي په قبایلي او نورو سیمو کي دبې پیلوټو الوتکوعملیات ودروي هغه زموږ د اعلامي دریمه ماده خورا جدي ګڼلې ده هغه داسي ده :

۳ــ موږ په کوزه پښتونخوا کي دبې پیلوټه الوتکو ورځني تروریستي عملیات غندو او له عرب جنګیالیو سره دجګړې په پلمه د قومي مشرانو ورځني قتلونه محکوموو .

له حوصلې ښخه مو مننه

محمدامين بسمل دبايرن مېشتو افغانانو دکولتوري ټولنې په استازيتوب

admin@vatandar.at



مدير مسوول : ديپلوم انجنيرعمر محسن زاده

صاحب امتياز : انجنيرنجيب يوسفی

کليه ی حقوق بر اساس قوانين کپی رايت محفوظ و متعلق به «وطندار» می باشد

به بقيه گزيده های مقالات انجنيرعبدالقادرمسعود

http://www.vatandar.at/fazelrahimrahim